AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۳/۲۲

# نن اختر دی

اختر دی!

هره کوڅه کي د هرګل په تنکی شونډي د باروتو دوړي ناځي

او

د هر چا د سلام شاته

د مخي ښي لفظونه پټ دي

لا راغلی یو څوک نه وي بیرته درومي

نن زموږ د ګاونډي د وړې لور کوشني نوکان

د نکریزو په ځای وینو باندې سره دي

د چاودلي بم ټوټو یې ګوتې پرې کړې

نن اختر دی

ډوډی نه شته

تنور لوږي خخه مړ دی

او مورکی مي له سهار راهیسي ناسته نغري ته

تش دیګی کي

خپلي اوښکي پخوي

او

هلته لیرې

له راډیو نه په کلچو او شیریني

خوړې شوې خنداګانې شیندل کیږي





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ